سردار محمد همدرد

۲۰۱۵/۱۱/۲۸

# له زابله تر هلمند

هسې خو هم ټول افغانستان د افغانانو ګډ کور دی، افغانستان وجود دی او نور ولایتونه یې غړي دي، ځینې ولایتونو د نږدې موقیعت له مخې په خپلو منځو کې ډېرې نږدې اړیکې لري، د خبریالانو، لیکوالانو، ځوانانو ترمنځ یې تګ راتګ ډېر وي، خپلو کې سره اړیکې پالي او یو بل ښې او بدې ته غواړي.
په دغه ولایتونو کې دوه ولایتونو چې تر ډېره خپلو منځو کې له نیکمرغه ښې اړیکې پالي هلمند او زابل ولایتونه دي.
زابل ولایت د کابل او هلمند پر لویه لار پروت ولایت دی، هغه د چا خبره د هلمندیانو دمه ځای دی، نو طبعاً به د هلمند ځوانانو او نورې فرهنګي هستۍ له دوی سره اړیکه لري.
هلمند کې د دولتي پوهنتون ترڅنګ شخصي پوهنتونونه هم سته، چې د زابل ډېرې محصلین لوړې زده کړې پکې کوي، د اراکوزیا او وادي هلمند دوه شخصي پوهنتونونو کې تر ۵۰ ډېر د زابل داسې محصلین په لوړو زده کړو بوخت دي چې فیس نه ورځخه اخیستل کیږي، دا خپل د زابلي ځوانانو سره د هلمندیانو د ښو اړیکو یوه نمونه ده، په ولسي جرګه کې د زابل د خلکو استازي عبدالقادر قلاتوال د هلمند د خلکو، ځوانانو او فرهنګپالو سره ډېرې نږدې اړیکې لري، خپله د زابل محصلینو ته د هلمند په شخصي پوهنتونو کې د زده کړې زمینه قلاتوال صاحب چمتو کړې ده.
دغه راز د زابل محصلین هلمند کې د ((زابل محصلین)) په نوم یوه مجله هم چاپوي دغه محصلینو یوه اتحادیه جوړه کړې ده چې د زابل پرته د نورو ولایتونو محصلین هم ګډون ورسره لري.
د دې ترڅنګ د هلمند ولایتي شورا هم د زابلي ځوانانو سره هر وخت همکاري او مرسته کړې ده، د دوی ستونزې یې حل کړي دي، منډې ترړې یې ورسره کړي او مشکل ته یې د حل لار ورته لټولې ده.
هلمند کې چې کوم فرهنګي او نورې غونډې جوړیږي د نورو ولایتونو ترڅنګ د زابل ځوانان او شاعران په ډېره مینه ورته راغوښتل کیږي دلته یې کوربتوب او میلمه پالنه کیږي، ان چې لیکوال او شاعر عبدالقدیر قلاتوال ورته د مرکز کابل څخه راغوښتل کیږي، په بېلابېلو وختونو کې قلاتوال صاحب د هلمند سیند مشاعرې ته، سمینارونو ته او نورو لویو غونډو ته راغلی دی او د هلمند د خلکو سره یې خپل فکر او نظر شریک کړی دی، د قلاتوال صاحب د آواز سره د مینې له برکته تېر کال نوموړي د هلمند سیند مشاعرې انانسري هم وکړه چې ګډونوالو په تودو چکچکو بدرګه کاوه.
مهمه خبره اړیکې پالنه ده، یوازې زابل او هلمند نه بلکې هر ولایت یې له بل سره باید وپالي، په هره برخه کې چې وي، څکه د اړیکو په واسطه فکري تبادله رامنځته کیږي، نوښتونه راځي او پرمختګونه رامخته کیږي.
هلمند کې د ګڼ شمېر ولایتونو ځوانان ژوند کوي، ځوک دندې لري، ځوک محصلین دي او ځوک په شخصي کاروبارونو بوخت دي.
دلته ډېر داسې محصلین هم په دولتي پوهنتون کې شته چې له ډېرو ستونزو سره مخ دي، تر دې پورې چې ځینې محصلین ناروغه سې د تداوي او روغتون روپۍ هم نه لري، په دغه برخه کې د هلمند ډېرې وګړو مرستې ورسره کړې دي.
زه بیا هم په هلمند کې په شتمنو خلکو او ملي سوداګرو ږغ کووم چې خپلې ډېرې مرستې دې د مسافرو محصلینو سره وکړي، دوی اړمن دي، هر ډول مرستو ته سټره اړتیا لري.
بل پلو دې ځوانان هڅه وکړي، اړیکې دې جوړې کړي، ځان ته دې کار پیدا کړي، نن سبا داسې زمانه او داسې ژوند راغلی دی چې خپله به ځان ته د هر کار زمینه برابروي، څکه مصروفه ژوند دی، هر چا ته خپل غم او خپل کارونه ور پر سر دي، سره له دې چې محصلین په پوهنتونونو کې لوړې زده کړې کوي ورسره سم دې یوه بله دنده هم ترسره کړي، د خپلې ځانګې اړوند اداره کې دې ځان ته کار پیدا کړي، دا خو له یوې خوا له دوی سره په کاري تجربه کې مرسته کوي، له بل پلو په اقتصادي برخه کې هم د دوی لپاره ګټور تماميږي.
د دندو په برخه کې د زابل د محصلینو ترڅنګ د نورو ولایتونو له محصلینو سره به زه تر خپله وسه مرسته وکړم ترڅو دوی ته په اړونده برخه کې دندې پیدا کړم، دغه راز په هلمند کې نورو فرهنګي ځوانانو سره دې اړیکې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ټينګې کړي، خپله د هلمند مدني ټولنه بېلابېلو ځانګې لرې، د هرې ځانګې محصلين کولی سي په اړونده برخه کې کار وکړي، دغه راز د کار موندنې يو کميسون هم لرو چې بېکاره ځوانانو ته د کار موندنې هڅې کوي، نو له دغه ټولنو کميسونو او فرهنګي کړيو دې محصلين ګډه واخلي، هلمند يو پراخ ولايت دی، تقريباً د ټولو ولايتونو خلک دلته سته دی، دلته د کار کولو ښه زمينه چمتو ده، محصلين بايد د خپلو درسونو ترڅنګ کار وکړي، اړيکې دې ټينګې کړي، د محصل لپاره تر هرڅه اړيکې ډېرې مهې دي، چې له بېلابېلو فرهنګي او مدني کړيو سره بايد اړيکې ولري، کار وکړي، او خپل ژون د مخته يوسي.
د يو موټي او آباد افغانستان په هېله!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ